


# ژوند لکه سپینې اوبه

خیال د ژوندون نه ساتو دومره بې تدبیره یو

ستا سترګو ته نیغ ګورو موږ څومره بې پیره یو

ډک خم په سر اړوو ، وعظ د ملا نه اورو

ښکلو سره مینه کړو نور نو بې تقصیره یو

ژامه د لیوه باسو مرګ مو پرې لوریږي نه

ښکار ته کمان نه لرو زړونو ته بې تیره یو

رنګ سره بلد نه یو زړونه مو دي سپین ساده

خیال د انځورګر لولو خپله بې تصویره یو

ژوند سپینو اوبو غوندې غواړو یې نغمو غوندې

ستړي یې له وینو یو ستړي یې له ویره یو

شاعر : عبدالغفور لیوال

ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادر مسعود

❋❋❋

## پیر



بوی د نرګسو له دې باغه په څه ویرو تلی

خیال نه مې پټ ستا د خوږو سترګو تصویر وتلی

کله ما تیرږي تا ګنډلی که جفا کړې که ناز

زړه نه مې تیر و بیر دا ستا د بڼو تیرو تلی

ساقي له مخ نه دې نور نه اوري نن زما په ګومان

له میکدې څخه ناراضه کوم فقیر وتلی

دا خلک پیژني یوازې د خزان بادونه

له دې د یاره د خوږو وږمو بهیر وتلی

دا مریدان به خو د یو بل په کنایو یادوي

دې خانقاه څخه لیواله د عشق پیر وتلی

شاعر : عبدالغفور لیوال

ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادر مسعود

# پـیر

بوی د نرګسو له دې باغه په څه ویرو تلی
خیال نه مې پټ ستا د خوږو سترګو تصویر وتلی

کله ما تیرېي تا ګنډلی که جفا کړې که ناز
زړه نه مې تیر و بیر دا ستا د بڼو تیرو تلی

ساقي له مخ نه دې نور نه اوري نن زما په ګومان
له میکدې څخه ناراضه کوم فقیر وتلی

دا خلک پیژني یوازې د خزان بادونه
له دې د یاره د خوږو وږمو بهیر وتلی

دا مریدان به خو د یو بل په کنایو یادوي
دې خانقاه څخه لیواله د عشق پیر وتلی

شاعر: عبدالغفور ليوال

ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود